**د TTP له خوا د بې گناه خلکو وژل، اسلام ته نېک نوم نه شي ورکولی!**




**خبر:**

د دوشنبې ورځې له غرمې ورسته د ایرفا کریم ای ټي ټاور ته نږدې د  لاهور د فېروز پور پر سړک د یوه ماین د چاودنې له امله، لږ تر لږه ۲٦ تنه مړه او ۵۸ نور ټپیان شول. ویل کېږي چې نهه تنه د پولیسو افسران هم په وژل شوو کې شامل دي. د دې حملې موخه هغه افسران وو، چې د لاهور د پراختیا  د کارکوونکو امنیت یې پر غاړه و.

**تبصره:**

له حملې ورسته ډېر ژر د پاکستان طالبانو تحریک (TTP) د دې حملې مسؤلیت پر غاړه واخیست او په ډاگه یې کړه: « زموږ پیغام د اسلام د دښمنانو د لومړۍ کرښې متحدانو ته دا دی، چې زموږ له لارې لرې شئ او یا له داسې برخلیک سره د مخ کېدو تیاری ولرئ.» له دې ډول حملو نه یوازې هغه خلک گټه پورته کوي، چې د خارجي دولت او بادارانو خدمت کوونکی دي. په دې پېښو کې تل هغه خلک قرباني ورکوي، چې د خپلو وړو بچیو د خېټو مړولو لپاره د یوې گولۍ ډوډۍ په لټه کې دي.  په دې پېښو سره دوی په یوه ډبره دوه مرغۍ له منځه وړي. له یوې خوا خلک له اسلامه وېروي او له بلې خوا د خلکو تر منځ تفرقه اچوي او د غوسې او وحشت په رامنځته کولو دوی دې باور ته رسوي، چې تاسې د تروریزم په وسیله احاطه شوی یاست او باید پر ضد یې وجنگېږئ.

TTPد خپل امنیت له ټینگښت نه په بشپړه توگه ډاډه دی او دولت د ټولو پلانونو او کارونو پلانوونکی وي. نو پر دغه اساس د TTP له خوا د بې گناه خلکو دا وژنه اسلام ته نېک نوم نه شي ورکولی. الله سبحانه وتعالی د دوی په موخه پوهېږي. TTP دا پیغام د دښمن د متحدانو لپاره نه دی لېږلی؛ بلکې د عامو خلکو لپاره یې لېږلی دی او

دوی به تر هغه په همدغه ذلت کې وي چې د غرب په خدمت کې وي او د دوښمن په پېژندلو کې کوشش ونه کړي. هغه وخت دغه ټول جهالت ته د پای ټکی اېښودی شو، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه د یوه داسې قوي ځواک بنسټ کېږدو، چې پکې د امت د وینې ارزښت په پام ونیول شي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ»** (بخاري او مسلم)

***ژباړه:*** *مومن له یوې سوړې دوه ځله نه چیچل کېږي.*

د اسلامي خاورې د غصب او اشغال یوه پېړۍ کېږي، چې په دې موده کې د اسلامي امت ډېرې وینې تویې شوې دي او تر دې ټکان ورکوونکې دا چې مسلمان، مسلمان وژني. تر کله به د دې خاینو رهبرانو فریب خورئ؟ نو پر اسلامي امت لازمه ده، چې دوه ځله یوه تېروتنه ونه کړي او یو بل د واقعي اسلام خبرولو او پوهولو ته وهڅوي او د نورو لپاره الګو شي. پر اسلامي امت لازمه ده، چې د خپلو وروڼو او خویندو او خپلې وینې ارزښت درک کړي او پوه شي، چې د دې وینو رېښتونی درک هغه وخت کېږي، چې یو ځل بیا خلافت د نبوت پر منهج پر ځمکه ظهور وکړي. تر دغه چتر لاندې دلیل یوازې د الله سبحانه وتعالی رضایت دی او د شهیدانو لپاره هم د الله تعالی له لوري لوړه مرتبه ده.

**لیکواله: اخلاق جهان**

**د حزب التحریر د مطبو عاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالقعدې ۵ مه**

**۲۰۱۷م، د جولای ۲۹مه**